دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت | دربیم کال، ۲ مه گڼه، پرله پسې ۱۰۱ مه گڼه | چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وري ۱۰ مه | د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الثانی ۲۴ مه | د۲۰۱۱ م د مارچ ۳۰ مه

درس قرآن

ای مؤمنانو! په انصاف کلک ودریږئ او باید د الله لپاره گواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، ځکه چې الله له تاسی څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منه مه کوئ که تاسې په گواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسی له کړنی څخه ښه خبر دی.

(النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنگه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو گاونډیانو څخه واوریدل چې نیکي دې وکړه نو تا بېشکه نیکي کړی ده او چې ورڅخه دی واوریدل چې تا بدي کړی ده نو بېشکه بدي دی کړی ده. (ابن ماجه)

پـه کندهار کې دیني عالمان وایي:

بهرنیان او افغان ځواکونو مو سپکاوی کوي

بینوا:
د کندهار ټول دیني عالمان، دمسجدونو ملا امامان او ددیني مدرسو مسوولین او ښوونکي وایي چې د بهرنیو ځواکونو بې ځایه چاپو تر پوزې کړې او په ښکاره ډول ددیني عالمانو، مسجدونو او داسلام دسپېڅلي دین سپکاوی کوي. نوموړي چې د یکشنبې په ورځ د یوه احتجاج په ډول راټول شوي وه او شمېر یې سلگونه ته رسیدی. ویل یې چې دشپې له لوري یې پر کورونو چاپې وهل کیږي، ښځو ته یې سپکاوی کیږي او په مسجدونو کې بهرني ځواکونه په دې پلمه چې دا د وسله والو طالبانو پټن ځایونه دي شپې گرځوي چې دا په هیڅ ډول دزغملو نه دي.
دکندهار دولایتي شورا ریس احمدولي کرزي هم دیادو دیني عالمانو ادعاوي تاید کړي او دا ډول کارونه یې په کلکو ټکو وغندل. احمد ولي کرزي دافغان ځواکونو دنامناسب چلند پړه پر دیني عالمانو واچول او پر هغوی یې نیوکه وکړه

پاتی ۴ مخ

طرح بودیجهء ملی افغانستان از سوی ولسی جرگه رد شد

کابل، رسانه ها:
اعضای ولسی جرگهء افغانستان با اکثریت آرا بودیجهء پیشنهادی وزارت مالیه را که به گفته وکلا در آن مشکلات زیاد وجود دارد و توازن لازم نیز در نظر گرفته نشده است، رد کردند.
نماینده گان مردم پس از بحث های زیاد که چندین هفته را در بر گرفته است، گفتند که بودیجهء پیشنهادی امسال با مشکلات جدی به همراه است که با نیازمندی های ادارات دولتی افغانستان و برنامه های انکشافی نیز مطابقت ندارد.
امیر خان یار رییس کمیسیون مالی و بودیجه ولسی جرگهء افغانستان در اجلاس روز دوشنبه برخی از دلایل رد شدن طرح بودیجه را چنین تذکر داد:

بقیه در صفحه ۴

افغان چارواکو د کابل بانک منحلولو ته غاړه کېښوده

راډیو آزادي:
افغان چارواکو د امریکا او نړیوال وجهي صندوق د فشارونو په نتیجه کې د کابل بانک منحلولو ته غاړه ایښې. مخکې تصمیم نیول شوی وو، چې د دغه بانک سرمایې به امانت او چارې به یې دافغانستان بانک له خوا سمبالیږي.
د افغانستان بانک چارواکور د امریکا او نړیوال وجهي صندوق د فشارونو په نتیجه کې روانه میاشت د کابل بانک منحلولو ته غاړه کېښوده.
کابل بانک په افغانستان کې له ټولو لوی خصوصي بانک دی، چې یوشمېر لوړرتبه چارواکي او د هغوی خپلوان په ادارو چارو او اسهامو کې برخه لري.
واشنگټن پوسټ لیکي، د کابل بانک لانجه په افغانستان کې د پراخه اداري فساد یوه

پاتی ۴ مخ

بهار نو؛ بهار صلح

صفحه دوم

کامه وال

په کانکور کې بې نتیجې څه مانا!؟

دویم مخ

یوه گوته بل ته؛ څلور گوتې ځان ته

فدا محمد فایض

نن سبا زموږ په ټولنه کې د هر چا زړه ډک دی، د هر سړي انتقاد خوښ دی او چې رښتیا خبره وي تر هغې چې انتقاد نه وي، اصلاح هم منځته نه راځي، شیخ اجل حضرت سعدي فرمایي: "سخن متکلم را تا کسی عیب نگیرد، سخنش صلاح نپذیرد "نو که موږ اصلاح غواړو انتقاد به ضرور کوو؛ خو یو خو د نقد او انتقاد ځانته خپله ژبه وي او بل دا دی چې دا نقد باید دومره ډېر نه شي چې پر اورېدونکیو او یا لوستونکیو گنډېر شي او دریمه خبره داده چې کمی او خلاوې خو په هر چا کې وي، داسې نه ده چې څوک انتقاد کوي هغه پخپله د انتقاد نه عاري دی، خو دا هم حقیقت دی چې خلا تر خلا پورې توپیر لري، په یوه سړی کې به داسې خلاوې چې ضرر به یې یوازې په ده پورې منحصر وي او په بل کې به داسې خلاوې چې ضرر به یې ټولنې ته یا د یوې ټولنې یوې لویې برخې ته متوجه وي چې په هغې صورت کې له انتقاده پرته بله چاره نه وي.
که چېرې موږ انتقاد کوو، نو هم باید په انتقاد کې د عدالت او انصاف اصل له لاسه ورنه کړو او هغه د عبدالرحمن بابا خبره چې:

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکړي
خپل ټټو او د بل اس به برابر کړي

دا خبره ددې باعث کېږي چې موږ هر یو یو ځل پر خپلو اعمالو بیا کتنه وکړو البته زما ددې خبرې معنا دا نه ده چې زه په ټوله کې غواړم کوم شخص، ډلی یا دولت ته برائت ورکړم، بې له شکه د دولت مسؤولیت او مکلفیت تر ټولو زیات دی او د انتقاد گوته هم ډېره دولت ته نېغېدای شي او همدا دولت دی چې قانون تطبیقولای شي او له دې لارې اصلاح رامنځته کولای شي، خو دا- ې هم نه چې یوازې دولت مسؤول گڼل چې حق یې هم دی چې باید مسؤول وگڼل شي او پر بیغوریو یې باید په واز کومي انتقاد وکړای شي، موږ له دې نه غافل کړي چې موږ پر خپلو اعمالو او خپلو کړنو بیا کتنه وکړو.
و گورئ !
افغانستان ته د نړیوالې ټولنې راتگ دا که په هره پلمه وي د یو څو بې ضمیرو او پلورل شویو افرادو او کړیو نه وراخوا، بل د هېچا غوښتنه هم نه ده هغوی چې په افغانستان کې د ملکي وگړو د مړگونو کومه لړۍ روانه کړې ده دا هېچاته هم د منلو او زغم نه ده، هغوی چې په افغانستان کې کوم اهداف لري او یا په افغانستان کې له حضور نه په گټې اخستنې سره په سېمه کې نور کوم ستراتیژیک اهداف تعقیبوي، افغانان پر دې ښه پوهېږي، که افغانان B52 او ډرون الوتکې نه لري، که کیمیاوي او بیولوژیکي وسلې نه لري که پرمختللي استخباراتي وسایل نه لري نو دا عقل او پوهه خو ضرور لري چې پر دې وپوهېږي چې امریکا او ناټو سیمې ته او په ځانگړې توگه افغانستان ته د کوم هدف د څارنې او لاس رسي په خاطر راغلي دي. دا به هم ومنو چې هغوی له ځانه سره کوم درواغجن شعارونه راوړي دي او کوم منحط فرهنگ یې په افغانستان کې د دودولو لپاره له ځانه سره راوړی دی، هغه دې ته زمینه مساعده کړې ده چې زموږ د ټولنې افراد د بېلارې خواته راکاږي، خو یو افغان خو دې ووایي چې کوم امریکایي له لاسه نیولی وی، چې ژر کوه شراب وخوره، زنا وکړه، رشوت واخله، اختلاس وکړه او یا دې ته ورته نور

پاتی ۴ مخ

اعتراف ناتو به کشتار غیرنظامیان بیگناه در افغانستان

خبر گزاري فارس:
ناتو ضمن اذعان به کشتار شهروندان بیگناه افغانی، به کشتار اشتباهی غیرنظامیان افغان در جریان حمله هوایی جمعه گذشته خود به ولایت هلمند اعتراف کرد.
به گزارش فارس به نقل از روزنامه فرانسوی "لوموند "، فرماندهی نیروهای بین المللی کمک به امنیت افغانستان (ایساف) طی بیانیه ای اعلام کرد: "در جریان حمله هوایی جمعه گذشته ناتو به ولایت هلمند چندین غیرنظامی افغان کشته شدند."
این در حالی است که ایساف هیچگونه اشاره اي به شمار تلفات این غیرنظامیان بیگناه نکرد.

بقیه در صفحه ۴

با کشته شدن یک نظامی خارجی دیگر؛

تلفات نظامیان خارجی در افغانستان در سال جدید به ۱۰۰ کشته رسید

خبر گزاري فارس:
با کشته شدن یک نظامی دیگر ناتو در جنوب افغانستان، شمار تلفات نظامیان خارجی مستقر در این کشور در ۳ ماه اول سال ۲۰۱۱ به ۱۰۰ کشته رسید.
به گزارش خبرنگار خبر گزاری فارس در کابل، نیروهای آیساف از کشته شدن یک نظامی خود در جنوب افغانستان خبر دادند و دلیل مرگ وی را انفجار مین اعلام کردند.
در همین حال، وزارت دفاع کانادا از کشته شدن یک سرباز خود در ولایت قندهار خبر داده است.
از آغاز سال جاری تاکنون نزدیک به ۱۰۰ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده اند که ۶۸ نظامی امریکایي و ۱۴ انگلیسی در میان کشته شد گان هستند.

بقیه در صفحه ۴

له طالبانو سره خبرو ته تیاریو "روسیه"

د انترفکس خبري اژانس د راپور له مخې روسیې د دوشنبې په ورځ وویل چې دا هیواد له طالبانو سره خبرو ته حاضر دی.
روسیې په دې ډول د امریکا د دریځ پخلی وکړ چې له افغانستانه د خپلو پوځیانو د ایستلو لپاره تیارې نیسي او هڅه کوي له دې لارې په افغانستان کې ثبات راولي.
روسیه وېره لري چې له افغانستانه د نژدې یولک امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته به په دې هیواد کې د قدرت خلا رامنځته شي او سخت دریځي به د پخواني شوروي اتحاد د منځنی اسیا جمهوریتونو ته نفوذ وکړي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن د فبرورۍ په میاشت کې ویلي وو چې د امریکا متحد ایالتونه د افغانستان د جگړې د پای ته رسولو لپاره دیپلوماتیکو هلو ځلو ته مخه کوي خو طالبان باید له القاعدې څخه لاس واخلي، تاوتریخوالی پرېږدي او ... خانونه ښېل کړي، د افغانستان اساسي قانون

پاتی ۴ مخ

ACKU

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

نوی کال؛ نوی عزم

دادی یو ځل بیا د پسرلي د نوی موسم په پیلېدو زموږ د ژوند نوی کال پیل شو، په ټولو موسمونو کې پسرلي یواځنې موسم دی چې غرونه، رغونه، دښتې، شاړې، باغونه او فصلونه د حسن او ښکلا زړه راښکونکو منظرو او معطرې فضاء سره ځان راښکاره کوي.

په حدیث شریف کې راغلي چې پسرلی د جنت هغه ساه ده چې په کال کې یو ځل راوباسي، د پسرلي دغه ساه ډول ډول گلونه او معطره فضاء منځ ته راوړي، غرونه، دښتې او شاړې د ښکلا او تازگي زړه راښکونکی منظرونه وړاندې کوي، د انسانانو په طبعیت کې یو عجیبه تازگي، نشاط او انرژي پیدا کوي هر څوک د خوشالي او توان مندي نوی روح محسوسوي، هر څوک غواړي چې د الله تعالی ددغه لوی نعمت څخه گټه اوچته کړي او خپل بدن او روح ته آرامي ور کړي.

د انسان په ژوند کې د پسرلی موسم په کال کې یو ځل خپل ښکلې مخ راښکاره کوي او ډېر ژر بېرته خدای پاماني اخلي.

هر پسرلی انسانیت ته له یو پیغام سره راځي او هر چاته په څرگندو ټکو کې دا پیغام ور کوي چې تاسې د الله تعالی د کائناتو ډېر ښکلې مخلوق یاست، دا کائنات ستاسې په وجه ښکلې دي، ستاسې ښکلا ته هېڅوک نه شي رسېدلې، دا شرف او عزت یوازې ستاسې په برخه دی چې لوی الله ټول کائنات ستاسې د خدمت او گټې لپاره پیدا کړی دی، همدا تاسې یاست چې آسمان او زمکه ستاسې په چوپړ کې ده، ټول نعمتونه ستاسې لپاره پیدا کړي شوي دي، د زمکې خلافت تاسو ته سپارل شوې او همدا تاسې د خدای جل جلاله نائبان یاست.

موږ انسانان د پسرلي د موسم د څو محدودو ورځو د ښکلا او حسن د منظرونو او معطری فضاء خوندونه خو اخلو خو پیغام ته یې له سره پاملرنه نه کوو چې څه پیغام یې راوړی او له موږ نه څه غواړي؟

انسان د الله تعالی په کائناتو کې یواځینې اشرف المخلوقات دی چې پخپل ژوند کې د قیامت تر ورځې د پسرلي د موسم په څېر ښکلي نظارې او ماحول پیدا کولی شي، د امن، مینې، ورور گلوی، عاطفې همدردی، ایثار، آبادی او غوره اخلاق گلونه راټو کولې شي، هغه کولې شي چې د زمکې دهمدغې ټو کړه کې ځان له جنت آباد کړي. د ژوند له نعمت نه خوندونه واخلي، د غمونو، آهونو، سلگیو او اوښکو پر ځای د خندا او تازگي غوټۍ پرانیزي، هر لورې د مینې او خوښۍ معطره فضأ او بادونه والوزوي د تازگۍ او تندرستۍ وږمې خپرې کړي.

زموږ په ژوند کې بې شمېره د پسرلی موسمونه راغلل او لاړل، دهغوی په راتلو مو هر کال د خوښۍ څرگندونې او میلې مو و کړې، خو کله مو هم دا فکر ونکړ چې پخپل مات گوډ ژوند کې هم د اسلام د سپېڅلی دین پسرلی راولو، د ژونو، تیریو، بربریتونو، ټگیو بر گیو، دړغلیو، بلهې اخستنو، درواغو، فحشاو او تعصبونو مخه ونیسو، پخپلو ښارونو، کلیو، ولسوالیو، ولایتونو، وزارتونو، ریاستونو، محاکمو، جرگو، مرکو، پوهنتونونو، لیسو او ښوونځیو کې د پسرلي آرام روح او وږمه پیدا کړو.

پسرلی په کال کې یو ځل راځي او ایله دوه درې میاشتې دوام کوي، خو انسان په خپل ژوند کې همیشنی پسرلي ته ضرورت لري داسې پسرلی چې زوال ونه لري او تل لپاره پر انساني ټولنه یې خپلې وزرې خپرې کړی وي، خو داسې پسرلی پخپله د انسانانو د نیکو او غوره اخلاقو له لارې راتلې شي، د اتفاق او یووالي له لارې راتلی شي. څلور فصلونه او موسمونه خو الله پخپله راولي په دې کې زموږ د انسانانو هېڅ رول او کردار نشته، مگر په ټولنه کې د مثبت بدلون او خیر ښېگڼې د پسرلي د موسم د راوستلو واک او اختیار انسان ته ور کول شوېدی. اصلاً الله تعالی د نیکي او بدي د کارونو په ترسره کولو کې انسان ته بشپړه آزادي ور کړېده او فرمایلي یې دي چې ما هغه ته د بدۍ او نیکی دواړه لارې ښودلې دي یا به یې مني او یا به یې نه مني، البته الله تعالی له انسان نه دا غوښتي دي چې د نیکۍ لاره ونیسي او د بدۍ ټولې لارې پرېږدي.

دا چې آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم د پسرلي موسم ته د جنت ساه ویلي ده موږ ته دا پیغام راکوي چې تاسې پخپل ژوند کې د پسرلي موسم رنگ او بوی پیدا کړئ پخپل عملي ژوند او ورځنیو چارو کې هم دغه ساه ته ځای ور کړئ خپله دنیا او ټولنه د جنت په ساه ښکلې کړئ.

راځئ موږ افغانان چې د ژوند پسرلی مو د اوږدې مودې راهیسې په خزان بدل شوی، د گلونو ټولې پاڼې مو رژیدلې، ټولې رنگینې مو پیکه شوی، ښکلې منظرونه او تازگي مو ختمه شوې د اسلام د سپېڅلي دین په عملي کولو او پخپلو کې د مینې او ورورولۍ په تودو غېږو ورکولو سره پخپل هیواد کې تلپاتې پسرلی راولو، له خزان سره خدای پاماني وکړو او پسرلی له خپلې سینې سره جوخت کړو، ځکه چې روحاني او حقیقي ژوند په همداسې پسرلي کې رانغښتل شوی دی.

اعزامی

سال نو؛ بهار صلح

زمان مانند سایر مخلوقات با گذشت هر مقطعی، از خاطره ها فراموش می شود، آنچه که نشان زمان را در صفحهٔ اذهان می کشد، حوادث و رویدادهای تلخ و شیرینی اند که به دست انسانها رقم زده می شوند. بشر باوجود غفلت کاری های متداول، بعضی از روزها و سال ها را با شهکاری های خویش برجسته و بیاد ماندنی می سازند و به استناد برجستگی همین رویدادها، علمی به نام تاریخ ثبت روزگار می گردد که در آئینه آن انسان ها محاسن و زشتی های کردارهای گذشته خود را دریافته و بر مبنای آن راه و روش آیندهٔ خویش را بر می گزینند.

چه خوب است که ما نیز از گذشت زمان و دگرگون شدن طبیعت در فصل بهار، بیاموزیم و به تأسی از موجودات دیگر، در بهار طبیعت، طبیعت خویش را تغییر بدهیم. عقل سلیم حکم میکند که باید از نوروز درس گرفت و با دیدن طراوت سبزه در دشت و چمن، زیبایی شگوفه های درختان و ریزش دانه های شفاف باران، ما و شما نیز طرح های سبز، زیبا، شفاف و جدیدی برای سر و سامان دادن زندگی مردم خود ترسیم نماییم و بدین وسیله با پشت سر گذاشتن خاطرات تلخ گذشته، صفحهٔ جدیدی فرا روی خود بگشاییم و پیرامون پیام نوروز و فلسفهٔ انقلاب طبیعت، لحظه ای باخود بیندیشیم و روند زایش و رویش نباتات را بستر مناسب و آرامی برای تفکر و مآل اندیشی جهت بهبود وضعیت نسل آیندهٔ وطن و جهان طبیعت قرار بدهیم.

جهان آفرینش با همه داشته های مرئی و نامرئی اش یکسره در خدمت انسان هاست، اجزای طبیعت بمثابه حلقه های زنجیری است که از اتصال و همبستگی آنها، سلسلهٔ نظم و حیات و روزی بمیان می آید و در نتیجهٔ آن نعمات الهی سخاوتمندانه برای انسان سرازیر می شود و تمامی خواسته ها و حوایجش مرفوع می گردد.

پس بیائید که از بهار بیاموزیم، از ریزش باران بهاری ابرها، از حرکت شتابان بادها، از تحول بدر و هلال ماه، از روشنی و حرارت خورشید، از سرسبزی و طراوت مرغزارها، از برگ و بار و شگوفه های درختان، از جوش و خروش وحش طیور و بالآخره از جنبیدن اجزای طبیعت که سر از بالین خاک بلند کرده و در گوش انسان ها آهنگ بیدار باش می نوازند و همه را به مآل اندیشی، کنه حقایق و آفرینندهٔ پدیده ها فرا می خوانند.

سال (۱۳۸۹) همچون سالهای گذشته، برای افغانها یک سال به یاد ماندنی است که پس از سپری شدن ۱۲ ماه به آهستگی و سرعت از کنار مان گذشت. اگر نیک متوجه شویم سال ۱۳۸۹ سالی بود که در بستر آن خیلی از قضایا و رویدادها شکل گرفتند و برماست که صرف نظر از حلاوت ها و مرارت های شدید و خفیف، از وقوع تمامی آن واقعات درس عبرت بگیریم.

سال گذشته مانند سال های دیگر طی سه دههٔ اخیر برای ملت افغان، سال خالی از ماجراها نبود، در این سال افغان ها مانند سالهای پار، با رنج و عذاب آغشته شدند. بمباردمان های هوایی نیروهای خارجی، حملات انفجاری مخالفین دولت، بیداد فساد اداری و رشوت، شیوع فساد اخلاقی به وسیله بعضی از رسانه های تصویری، برگزاری انتخابات آگنده از تقلب پارلمان، حوادث المناک ناشی از حوادث طبیعی، کشت، قاچاق و اعتیاد به مواد مخدر، فقر و بیکاری مزمن، نارضایتی مردم از مجریان امور و بالاخره حرص و آز ارباب قدرت و ثروت برای قاپیدن بیشتر مال و باور مردم، از جمله رویدادهای بودند که ارمغان آنها برای افغانها جز تلخکامی حاصل دیگری نداشت. چه ابتکاری بالاخره می تواند که این همه تلخی ها را از صفحه ذهن افغان ها بزداید و در عوض سال نو را در کام شان شیرین سازد؟

چه خوب است درین بحبوحه یک جمعی از جوانان وارسته، بطور خود جوش وارد میدان شوند و با نیک نیتی و خیراندیشی برای آوردن تغییر در روند زندگی مردم وارد کار زار شوند و فرداهای بهتری را فرا راه مردم دردمند و ستم کشیده این مرز و بوم ترسیم کنند. چنان فردای که دیگر دود و غبار جنگ، دل و دماغ هموطنان ما را مکدر نسازد و هر روز جمعی از مردم بی گناه ما به خاک و خون نغلتند و پس ازین برادری و صمیمیت جاگزین جنگ و خونریزی در کشور گردد. فردایی که افغانها بطور حقیقی حاکم بر سرنوشت خویش شود و دست مداخلات اغیار ازین سرزمین کوتاه شود و در نهایت افغانستان فقط به خود افغان ها تعلق بگیرد و مهتری و زعامت این ملک به صاحبان اصلی آن سپرده شود و قلمرو افغانستان دیگر محل رزمایش جنگ افزارها و تختهٔ مشق رزمنده گان خارجی قرار نگیرد.

سال ۱۳۹۰ در شرایطی آغاز می گردد که معادلات سیاسی و نظامی به مستوای جهانی و منطقوی، دستخوش تغییر و تحول است و پس از زور آزمایی هایی بی نتیجه، زورگویان شعار صلح سر دادند و همین تغییر موجب شد که دولت افغانستان بنای جرگه مشورتی صلح و شورای عالی صلح را بگذارد شاید گویای این مدعا. طرح مصالحه ملی جناب حامد کرزی که با مخالفین سیاسی مسلح دولت، امیدواری های را در اذهان هموطنان ایجاد کرد. زیرا بر مبنای آن منبعد بجای جنگ و زورگویی، بر حربه منطق، معقولیت، حق گرایی و همدیگر پذیری تکیه می شود و اثرات این تغییر سیاست قبل از همه در مواضع سران جامعهٔ جهانی و در قطعنامه کنفرانس های لندن، لزبن، جده، اسلام آباد و انقره، در باب قضیه افغانستان مشاهده کردیم.

از قراین چنان پیداست که از لابلای چنگ و دندان نشان دادن جناح های متخاصم، زمزمه های دلنشین آشتی و مصالحه نیز شنیده می شود و همزمان با صف آرایی و تهدیدات نظامی در عرصه جنگ، در عرصهٔ دیپلوماسی نیز کنفرانس ها و گفتگوهای پیدا و پنهان راه افتاده است. نیات اغیار بخود شان مربوط است، ولی قاطبه ملت افغان اقدامات صلح جویانه سال ۱۳۸۹ را به فال نیک گرفته و امیدوارند که این شعارها و مقوله های ظاهراً امیدوار کننده به زودی جامهٔ عمل بپوشد و ملت افغان در سال ۱۳۹۰ واقعاً شاهد صلح استقلال، آزادی، امنیت، انکشاف، فراوانی، رواداری، وحدت ملی و خود کفایی کشور خود باشد.

ریپوټ: عبدالله کامه وال

په کانکور کې بې نتیجې څه مانا!؟

د کانکور د ازموینې د وروستیو پایلو له اعلان وروسته داسې ښکاري، چې سږ کال بیا هم د دې ازموینې زیات شمیر گډون کوونکي بې نتیجې پاتې شوي دي.

د کانکور په ازموینه کې پاتې شوي، کسان د لوړو زده کړو وزارت پړ گڼې، چې د لوړو نمرو له ترلاسه کولو سره سره بیا هم بې نتیجې پاتې شوي دي.

د دوشنبې په ورځ د هیواد له بیلا بیلو ولایتونو څخه د کانکور د ازموینې زیات شمیر بې نتیجې کسان د لوړو زده کړو وزارت مخې ته را ټول شوی وو او غوښتل یې چې د خپلې بې نتیجې په اړه ځان وپوهوي.

که څه هم د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت هڅه کوي، چې د دولسم ټولگیو زیات شمېر فارغین عالي او نیمه عالي تحصلي موسسو ته جذب کړي، خو بیا هم هر کال زیات شمېر کسان په کانکور کې بې نتیجې پاتې کیږي، چې د ښوونځیو د فارغینو او زده کوونکو اندیښنې یې پارولي او ستونزې یې یو پر دوه کړې.

او چې دا د لوړو زده کړو د وزارت په کاري نیمگړتیا دلالت کوي.

سږ کال د کانکور په ازموینه کې نږدې سل زره کسانو گډون کړی وو چې له دې جملې یې نږدې څلوېښت زره د افغانستان عالي او نیمه عالي موسسو ته لار پیدا کړې.

خو ډېرې گډون کوونکي په دې پروسه بدگومانه دي او وایي چې دا لومړی ځل نه دی، چې د کانکور د گډونکوونکو سره دا ډول چلند کېږي.

کانکور ځېلي په دې اند دي چې په کانکور کې هم لکه د نورو ادارو په څېر د قومي، ژبني او مذهبي تعصبونو نه کار اخیستل کیږي ددې پر ځای چې وړ او مستعد ځوانان اړوندو پوهنتونونو ته جذب شي پر ځای یې داسې ځوانان معرفي کیږي چې له ناکامو متعلمینو یې علمي کچه تر ډېره ځایه ټیټه وي. ددوی په اند پکار ده چې په علمي ادارو کې ټولو افغانانو ته په یوه سترگه وکتل شي او که چېرې د امتیاز مسأله وي نو دا امتیاز دې دهغو ناامنو سیمو شاگردانو ته ورکړ شي چې نه یې مکتب روغ دی او نه هم مسلکي ښوونکي لري چې د زده کوونکو په روزنه کې مثبت رول ولوبوي. نه هغه چاته چې هم یې په سیمه کې امن شته او نه هم ښوونځي او ښوونکي برحال دی.

کانکور ځېلي محصلین وایي چې ډېرې داسې ځوانانو هم په دې کانکور کې پوهنتونونو ته لار نه ده پیدا کړې چې د نمرو سلنه یې تر درې سوو هم لوړه ده خو ددې برعکس داسې هم شته چې د نمرو سلنه یې تر دوه سوو ټیټه ده خو پوهنتون ته یې لاره پیدا کړې ده. د محصلینو په اند، دا ډول امتیازي سلوک د یو توکم او مذهب له محصلینو سره شوی چې د لوړو زده کړو وزارت او ډېرو پوهنتونونو ته د همدې ډلې په ولکه کې دي.

اعتراض کوونکي محصلین له دولته غواړي چې د لوړو زده کړو په وزارت کې اساسي بدلون راولي او دغه مهم وزارت د یوې کړې له ولکې وباسي.

د ولسمشر سلاکار وزیر او د پکتیا والي ډګر جنرال جمعه خان همدرد:

په شمال کې روان حالت نور د زغملو وړ نه دی

ګردېز، پژواک:
د قومونو په چارو کې د ولسمشر کرزي سلاکار او د پکتیا والي جمعه خان همدرد وایي، چې په شمال کې دولت ته تسلیمېدونکي جعلي طالبان دي او د یوې ځانګړې ډلې لخوا پر وسلو سمبال شوي دي.

همدرد دغه څرګندونې له پژواک خبري اژانس سره په یوه ځانګړې مرکه کې کړې دي چې د شهادت درنو لوستونکو ته یې هم وړاندې کوو.

همدرد په دې مرکه کې د شمال د تسلیمېدونکیو مخالفینو ترڅنګ او په دغه سیمه کې د قومي مشرانو او حزب اسلامي د قوماندانانو د وژل کېدو، د سیمه ییزو پولیسو د جوړېدو، د شمال د امنیت او بیارغونې په اړه هم ځینې څرګندونې کړې، چې د پژواک لوستونکیو ته د سوال او ځواب له مخې وړاندې کېږي.

پوښتنه: په دې وروستیو کې په شمال کې د ډېرو مخالفینو د تسلیمېدو خبرونه ورکول کېږي، ایا دا رښتیا مخالفین دي؟

ځواب: نه هیڅکله نه! دغه هغه واقعي طالبان نه دي، چې شته، دا هغه ملېشې وې، چې د شورای نظار د ډلې لخوا د ټاکنو د ګډوډولو لپاره په لوی لاس جوړې شوې وې او وسلې یې پرې وېشلې وې، دوی نن غواړي په دې نوم کرېډیټ واخلي او هره ورځ په رسنیو کې خبر جوړ کړي او خبر ورکړي دا هغه رښتیني موضوع نه ده، چې په رسنیو کې انعکاس ورکوي یا یې ورکړی.

له بده مرغه دا پنځه میاشتې کېږي، چې همدغو خلکو ته وسلې وېشل کېږي، حال دا چې موږ ټاکل شوی حکومت لرو، نظام لرو او نړیوال ځواکونه هم د امنیت په خاطر شتون لري، نو اړتیا څه ده چې یوې ډلې خلکو ته وسلې وېشل کېږي، هغه هم د بلې ډلې د ټکولو په موخه، په دغه کارسره عام خلک د طالب او حزب په نوم تورنوي او له منځه یې وړي او دغه یو لوی ناورین په افغانستان او په خانګړي ډول په شمال کې روان دی، نور دغه وضعیت د زغملو نه ده، دوی چې دغه کار کوي، نو د سیمه ییزو پولیسو نوم ورته کاروي، سیمه ییز پولیس ځانته پروسیجر لري، چې هغه باید د شوراګانو له لوري وګومارل شي او هغوی باید د ټولو قومونو استازیتوب وکړي او له داسې مخالفینو سره تړاو ونه لري، چې له دې نوم څخه غلطه استفاده وکړه او دا وسله یې یوې ډلې ته ووېشله او تاسې ولیدل، چې د ولسي جرګې ټاکنې همدې ډلې خرابې کړې، نو اوس څه شول هغه طالبان؟ چې ټاکنې یې ګډې وډې کړې، دغه هسې ساختګي طالبان وو، چې پرون وو او نن نه شته، د شمال په ځینو سیمو او کندوز کې به وي، خو په ډېری ځایونو کې خاصتاً په مزار کې دغه یوه ډرامه ده.

پوښتنه: دولت په دې کې څومره بریالی دی، چې همالته د دغه ډول کړنو مخه ونیسي؟

ځواب: مخکې مې وویل، چې نظامي او ملکي اداره، ځمکې، اقتصاد، تجارت او وسلې توزیع کول دا ټول له یوې ډلې سره دي، همدغه حکومت دی، هم اپوزیسیون دی. او هم حکومت او په شمال کې بل د حکومت سړی نه شته، پرته له دوی، نو څنګه به د داسې کړنو مخه ونیول شي.

پوښتنه: په دې ورستیو کې ځیني قومي مشران د هیواد په شمال کې په مرموز ډول وژل کېږي ایا تاسو په دې اړه څه نظر لرئ، چې په دغه کار کې به د چا لاس وي؟

ځواب: په شمال کې خو تاسې وینئ، چې پخوانۍ ستونزې لا شته، خو په دغو دوو کلونو کې دا مشکلات ډېر زیات شوي دي، خصوصاً د جهادي او قومي مشرانو حتا د لویې جرګې د وکیلانو په کچه ترور شول، البته له پنجشیر، بدخشان، فاریاب بیا تر بادغیس پورې دا لړۍ غځېدلې ده، تاسې ولیدل، چې څلور میاشتې مخکې زمونږ یو ولسوال، چې په یوه جلسه کې غرېدلی وو، په همدغه جرم شهید شو، نوموړی زمونږ یو له با احساسه ځوانانو څخه وو، ښه فکر او مفکوره ورسره وه، جوشنپور نومېده، یوازې په دې تړاو، چې له حزب اسلامي سره یې اړیکې لرلې.

پوښتنه: تاسې څه فکر کوئ، چې دغه قومي مشران د چا له لوري او ولې وژل کېږي؟

ځواب: که ښکاره ووایم، کوم چې زموږ جهادي قوماندانان او که مشران وژل کېږي دا د شورای نظار له لوري وژل کېږي، دوی تل حزب اسلامي د هغې ډلې په تور تورنوي، چې عملاً د دولت پر خلاف جنګېږي، خو داسې نه ده، په ټول شمال کې که تاسو حزبیان ګورئ له دولت څخه یې ملاتړ کړی دی، یواځې په ټاکنو کې نه، بلکې په ټولو مسایلو کې یې تر شا ولاړ دي او یواځنی لوی جرم یې دا دی، چې پخوا د روسانو پر خلاف له حزب سره ولاړ وو او تر ټولو یې زیاته ونډه په جهاد کې درلوده، خو اوس یې له اوسني رژیم او دولت سره په هره مسله کې کلک ملاتړ کړی دی او زیاته ونډه لري، نو پر همدې تور وژل کېږي، لوی ثبوت یې دا دی، چې د تېر کال راهیسې یواځې د مزارشریف په ښار کې شل تنه وژل شوي، همداسې په کندوز، تخار، بدخشان، سرپل او جوزجان کې په مرموز شکل مشران وژل کېږي، ستونزه یواځې دا نه ده، چې یو شمېر مشران وژل کېږي، د دې ترڅنګ یو شمېر نور مشکلات هم شته.

پوښتنه: د ولسمشرۍ په ټاکنو کې هغه مشران، چې له وتلو کاندیدانو یې ملاتړ اعلان کړی و، ووژل شول، ستاسو په اند دغه کار په کوم تور د چا لخوا شوی او لامل یې څه و؟

ځواب: واضح مې ویلي او وایم یې، هغه خلک چې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې یې له ولسمشر کرزي څخه ښکاره ملاتړ اعلان کړ، هغه یا وژل شوي او یا به واورئ، چې وبه وژل شي او دا لړۍ به دوام لري، دوئ دغه فکر کوي، چې شمال زموږ دی او وایي، چې که موږ له دولت څخه ملاتړ کوو، نو خلک به یې هم کوي، که دوئ مخالفت کوي او خلک به هم دغه کار کوي، دغه فکر بېخي غلط دی، دا ښکاره خبره ده، چې دغه یوه ډله ده او فعلاً په شمال کې د دولت په نوم واکمن دي، والیان، ولسوالان، قوماندانان او نوره اداره ټوله د دوئ ده، نو فکر نه کوم چې په مرموز ډول د دې ډول وژنو مخه پر اسانۍ ونیول شي.

واضح مې ویلي او وایم یې، هغه خلک چې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې یې له ولسمشر کرزي څخه ښکاره ملاتړ اعلان کړ، هغه یا وژل شوي او یا به واورئ، چې ووژل شو

پوښتنه: تاسو خو له ولسمشر سره د قومونو په چارو کې سلاکاروزیر یاست او له دې ستونزې هم ښه خبر یاست، دا موضوع، چې قومي مشران په شمال کې په مرموز ډول وژل کېږي، نو دا خبره مو څومره د قومونو په استازیتوب له ولسمشر سره یاده کړې ده؟

ځواب: ما تل او په لسګونو وارې دا خبره رسنیو ته کړې او له ولسمشر سره مې هم یاده کړې، چې د داسې پېښو مخه دې ونیول شي او که ونه نیول شي ترکله به ادامه پیدا کوي، نو بالاخره دغه ولس نور په تنګ راځي او د ځان د خلاصون او دفاع په خاطر به څه لاره ولټوي، مجبور دي، چې دولت او نړیواله ټولنه یې پوښتنه ونه کړي، نو پاڅون به وکړي او لاروته به راووځي، تر څو خپل غږ نړیوالو ته ورسوي، نور خو دا خبره بار، بار کېږي او ټول دولت په جریان کې دی.

پوښتنه: نو تر اوسه په دې برخه کې ولسمشر څه کړي، تاسو ته یې مثبت ځواب ویلی که یواځې ژمنې یې درسره کړې دي؟

ځواب: ټولې یې د ژمنو په خبر دي، له بده مرغه تر اوسه دولت کوم هیئت هم نه دی لیږلی او عملي ګام هم نه دی اخیستل شوی، چې دا موضوع وڅېړل شي او رسنیو هم دې موضوع ته چندان اهمیت نه دی ورکړی، دا زموږ د ولس ګیله ده او دا زموږ د ټول حزب ګیله ده، چې د دوی غږ نه دی پورته شوی او په مرموز ډول یا مشران او یا هم د حزب اسلامي پیاوړي قوماندانان وژل کېږي.

پوښتنه: په شمال کې که د هغو قومي مشرانو او د حزب اسلامي د څو قوماندانانو نومونه راته واخلئ، چې په مرموز ډول وژل شوي دي او ډېر پیاوړي وو؟

ځواب: تاسې وګورئ د نمونې په شکل درته څو نومونه اخلم، لکه مخکې مې چې وویل، زموږ یو ډېر قوي ملګری جوشنپور، چې په پنجشیر کې د حزب اسلامي کس وو ووژل شو، مولوي خیرمحمد د تخار وو، یواځې په همدغه جرم ووژل شو، چې له ولسمشر څخه یې په ټاکنو کې ملاتړ کړی وو او ورسره دوه نور ملګري هم ووژل شول، په مزار کې د لویې جرګې وکیل حاجي موسی خان ووژل شو، معلم صاحب اسد خان، چې د جهاد له پیله بیا تر اوسه د جبهې-مشر وو، هغه ووژل شو، فضل بای، دغه داسې یوه څېره وه، چې په مزار کې د جهاد بنیاد د دوی د کورنۍ له لوري ایښودل شوی وو، هغه ووژل شو، په همدغه شکل په ټول شمال کې په تېرو دوو کلونو کې له شلو ډېرشو کسو زیات وژل شوي او لا هم وژل کېږي.

پوښتنه: تاسې څه فکر کوئ، چې په دغو وژنو کې یواځې دا یوه ډله ښکېله ده، که بهرني لاسونه هم په کې وینئ؟

ځواب: دا نه شم ویلی، چې بهرنیان په کې لاس لري او کنه؟ خو په دې کې شک نشته، چې حاکمې ډلې په شمال کې په داسې کړنو لاس پورې کړی دی.

پوښتنه: خلک هم د دې ډول وژنو د مخنیوي غوښتنه کوي، تاسو به په دې اړه څه وکړئ؟

ځواب: هڅې مو کړې او بیا هم هڅه کوو، چې دا ستونزه د مذاکرې له لارې هواره شي، ولسمشر او مرکزي دولت دې ورته پاملرنه وکړي، ترڅو دغه ډول وژنو او یا په نهو لسو ولایتو کې د یوې ډلې نظام ته دې د پای ټکی کېږدي، خو که بیا هم ونه شوه، نو موږ مجبور یو د خپل ولس په څنګ کې به درېږو او له دولت سره به پرېکون کوو.

پوښتنه: ستاسو پرېکون به له دولت سره څه ډول وي، داسې لکه څنګه چې په نورو ولایتونو کې د ځینو خلکو له لوري کېږي، چې نن پرېکون وشي او سبا بیا هم هماغه کسان له دولت سره ښې اړیکې لري که خبر یې منل کېږي او یا نه، خو له دولت سره بیا هم همغږي وي؟

ځواب: ما مخکې ویلي، هڅه به کوو چې له پرېکون نه مخکې دا ستونزه د خبرو له لارې هواره کړو، خو که چېرته ونه شوه، نو بیا به داسې نه وي، چې نن به پرېکون وي او سبا به بیا را روان یو.

پوښتنه: د سولې د عالي شورا او مشورتي جرګې په اړه څه نظر لرئ؟

ځواب: په دې کې شک نه شته، چې که د پولې پورې غاړه وي او که دې خواته، په هغه نقطه کې چې اوربلېږي خاصتاً په افغانستان کې، چې زموږ عام ولس که هغه کوچنیان او که لویان، که هرڅوک دي دا ټول سولې ته تږي دي او ټول افغانان سوله غواړي او همداسې له پولې پورې افغانان همدا شی غواړي او هیڅکله افغانان جنګ نه غواړي دا جنګ پرې تپل شوی دی، ولسمشر هم لکه عادي افغان غوندې سولې ته تږی دی، او کمېسیون یې د دې لپاره جوړ کړی، چې سوله راشي، په جنګ دا مسایل نه شي حل کېدای، که حل کېدای نو دا دېرش کاله به حل شوي وای او بالاخره سوله ده، د سولې په اړه دا ویلای شو، بدبختانه په دغه کمېسیون کې داسې کسان شته، چې عاملین د جنګ دوی دي او مخالفینو د دوی پر ضد جنګ پیل کړی دی، داسې کسان په دغه کمېسیون کې شته، چې په یو وخت یې طالب ته د سولې د کوترو خطاب کړی او په بله مرحله کې یې د جهاد فتوا پرې ورکړې، په یو مرحله کې یې وسله ورکړې مهمات یې ورکول د خپل رقیب د ماتولو په خاطر او کله چې له دوی سره لاس او ګرېوان شوي دي، نو د جهاد اعلان یې کړی، په بله مرحله کې یې نړیوالو ته غږ کاوه، چې دا بمونه واړه دي غټ، غټ پرې واچوئ، څمکني ځواکونه راولېږئ، چې د مجاهدینو په څنګ کې ودرېږي، نو په داسې مرحله کې طالب یا مخالف زړه نه ښه کوي، چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي، مصلح باید همېش دواړو خواوو ته تګ راتګ وکولای شي، دا په ټیلیفون او پیغامونو نه حل کېږي، خو په دغه کمېسیون کې داسې خلک هم شته، چې سوله او امن او متحد افغانستان غواړي او د ټولو افغانان په ژوند کې سوله غواړي او سولې ته اړتیا ده.

پوښتنه: غوښتنه مو په شمال کې له حکومت یا له مرکزي ادارې څخه څه ده او هماغو خلکو ته که پیغام لرې کوم پیغام به ورکړې، کوم چې په دغه ډول مرموزو وژنو کې لاس لري؟

ځواب: له حکومت څخه مې غوښتنه دا ده، چې دوی باید قانون پلی کړي او عدالت دې تامین کړي، هیڅ یوې ډلې ته باید اجازه ورنه کړي، چې د چا د وژلو نیت وکړي، دا خو لا پرېږده چې دوی په دغه عمل لاس پورې کړي، ټولو قومونو او ټولو ګوندونو ته دې په یوه سترګه وګوري، په دې ملک کې باید نظام موجود وي او قانون پلی شي، که څوک سرکشي کوي نو د قانون منګولو ته دې وسپارل شي، په دولت کې باید مکافات او مجازات وي، هغو کسانو ته مې پیغام دا دی، چې غواړي دې وضعیت ته ادامه ورکړي، چې د بل په وژنه او تباهي کې خپل ژوند ویني، فکر کوم دا تېروتنه کوي، که دا ډول کېدای، نو دا په افغانستان کې د نجیب له حکومت نه راپه دېخوا له ولسمشر نه رانیولې تر عادي کارکوونکي پورې همدغه یوه ډله حاکمه وه، ولې ویې کړای شوای، چې په هېواد کې حکومت وکړي، نه! ویې کولی شوای، چې خپل رقیبان نابود کړي، بیا به هم وایو، نه! بالاخره په دغه اوسني سرنوشت اخته شو، چې مهاجر شول هغه وضعیت باید په یاد کې ولري که یوې ډلې او یو قوم حکومت کولای شوای، نو طالبانو به هم کړی وای، زه وایم دغه خیال دې دوی نه کوي، چې د یو سړي په وژنه به نسل خلاص کړي، د یوه تن په وژلو ورته زر دښمنان پیدا کېږي، دوئ باید دوژلو فکر ورک کړي، که خلک له حکومت نه خپه وي، نو دلته ستونزې پیدا کېږي او د دولت لپاره یو ګواښ پیدا کېږي.

د قرآنکریم مضامین

نوربه حبیبي

قرآنکریم د دنیا او آخرت په ټولو موضوعاتو حاوي دی او ګرد هغه مضامین په کې بیان کړی شوي دي چې د بشریت د مادي او معنوي سعادتونو لپاره لازم او ضروري دي چې د ګردو یادونه ممکن ندی اما په جامع او اساسي مضامینو به په یو اندازه بحث وکړو.

۱- د قرآن لومړي محوري او اساسي مضمون د کائناتو د خالق، مالک، رب او حقیقي معبود د ذات او صفاتو وجود او ثبوت، توحید او وحدانیت دی.

۲- دویم مضمون یې د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت ثبوت دی چې د نبوت اختتام او پر نورو ګردو پخوانیو انبیاو او رسولانو او هم دهغوی په رسالت او پر هغوی د الله جل جلاله له پلوه پر نازل کړې شویو کتابونو ایمان لرل دي.

۳- معاد: دریم اساسي مضمون یې د قیامت د ورځې حساب، میزان، جنت او جهنم او په قیامت پورې د نورو ګردو اړوندو مسایلو ثبوت او ایمان لرل پرې فرض دی.

۴- تخویف او بشارت: یعنې د مؤمنو، موحدینو، د الله کتاب او سنت د متبعینو لپاره د فلاح زیری، د کافرانو، ملحدانو، مشرکانو، دهریانو او بدعتیانو لپاره د سزا څخه ویرول چې په قرآن کې وعد او وعید هم ورته ویلې شوېدی.

۵- عبادات او دهغوی ډولونه، احکام، حکمتونه په ماضی، مستقبل او حال کې.

۶- اخلاق: ناوړه او غیر فطري خویونه او دهغوی ناوړه عاقبت، حمیده خویونه او دهغوی مادي او معنوي، دیني او دنیوي، فردي او اجتماعي ګټې او ثوابونه بیانول د قرآنکریم شپږم اساسي مضمون دی.

۸- الولاء والبراء: یعنې دوستي او دښمني د قرآنکریم دغه مرکزي مضمون د اسلامي امت د تشخیص او امتیاز لپاره حیاتي نقش لري له همدې امله الله جل جلاله خپلو مؤمنانو بندګانو ته تعلیم ورکوي چې له چاسره موالات او له چاسره دښمني ونه کړي او دا د اسلامي عقیدې اساسي رکن دی.

۹- معاملات: په قرآنکریم کې ګرد دنیوي معاملات احتوا کړی شوي دي لکه مناکحات، طلاق، عدت، نفقات، تربیت، وصیت، وراثت، حدود، تجارت، هبه، امانت او داسې نور.

۱۰- امر بالمعروف او نهی عن المنکر

۱۱- حلال او حرام

۱۲- تذکیر بایام الله

۱۳- تذکیر بالاء الله

۱۴- تقدیر او پرهغه باندې ایمان

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه
ایمیل:
shahadatnews_kabul@yahoo.com

یوه ګوته بل ته؛ څلور ...

ذمیمه اعمال ترسره کړه، نو دا باید ومنو هغه کسان چې دې کارونو ته مخه کوي په حقیقت کې هسې یو ست غواړي چې د بېلاریو پر دغه سیلاب ور ګډ شي، نو همدا خبره ده چې د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث په مصداق الله تعالی زموږ عملونه پر موږ حاکم کړي دي او دا عملونه یې د ناتو، او یا زموږ د کورنیو بدمرغه کړیو په بڼه پر موږ حاکم کړي دي، یو شمېر یې ظالمان او یو شمېر یې مظلومان کړی یو، خو تاسې فکر وکړئ چې په ټولنه کې د ظالمانو شمېر ډېر دی که د مظلومانو؟

بې له شکه به دا راسره په یوه ساده استدلال هم ومنئ چې د مظلومانو شمېر ډېر زیات دی، که د افغانستان نفوس په اټکلیزه توګه پنځه ویشت ملیونه فرض کړو د لویو او وړو په شمول به ایله د یو څو سوو یا یې فرض کړه څو زرو زورواکانو موجودیت ومنو، نو دا پاتې نفوس یې شمېر یې په لسګونو ملیونه راځي ټول په مظلومیت کې راځي، نو تاسې فکر وکړئ چې دهغو ظالمانو مسؤولیت ډېر شو که ددغو مظلومانو.

زما ددغې لنډکی لیکنی هدف دا دی چې موږ هر یو باید خپل مسؤولیت وپېژنو او یو بل ته ونه ګورو بلکې هر یو یې له خپله خانه شروع کړو بیا خپلې کورنی ته ولاړ شو بیا خپل کلي او ولس او په همدې توګه دا دایره پراخه کړو او دغسې به خبره دې ته ورسېږي چې یو اصلاحي حرکت رامنځته شي موږ خامخا له چا سره په مخالفت نه یو مکلف او نه مو دا مخالفت په ګټه دی او نه مو ضرورت دی، بلکې موږ په اتحاد و اتفاق مینه او ورور ګلوی هم مکلف یو او هم مو اړتیا ده، خو دا هغه کرښې دي چې د افرادو ترمنځ د بېلتون کرښې راکاږي او چې کله اصلاح منځته راغله قانون حاکم شو او د اسلام احکام مو پر ځان پلی کړل بیا نو نه اعتراض ته اړتیا پیدا کېږي نه انتقاد ته.

بهرنیان او افغان ځواکونو ...

چې لیرې پاتې شوي دي او دټولنې نوي ځوانانو ته یې داسلام دمبارک دین په چوکاټ کې لارښوونه نه ده کړې. په وروستیو کې کندهار والي توریالي ویسا او دملي امنیت رئیس جنرال محمد نعیم مومن په خپلو ویناوو کې دیني عالمان دټولنې سترګې او رهبران وبلل او غوښتنه یې وکړه چې دیني عالمان، دمسجدنو ملا امامان او ددیني مدرسو ښوونکي دي ددولت سره همکاره شي.

ددوی په وینا دیني عالمان دي د وسله والو مخالفینو سره دسولې درواني پروسې دپاره هم ګامونه اوچت کړي. دا په داسې حال کې چې دا مهال په ټول کندهار کې ۱۷۰ بابه دیني مدرسې شته چې دا مهال یې دولت دراجستر کیدو دپاره کارونه پیل کړي دي. ددولت لوړ پوړي چارواکي په دې باور دي چې له دیني مدرسو څخه ددولت وسله وال مخالفین ګټه اخلي خو د دیني مدرسو مسوولین دا خبري ردوي.

طرح بودیجهء ملی افغانستان ...

"بودیجهء سال ۱۳۹۰ مانند سال های گذشته به مشکلات مردم پاسخگو نیست و آن را حل کرده نمی تواند. در بودیجهء سال ۱۳۹۰ بودیجه ولایتی، سکتوری و پیشرفت های انکشافی در نظر گرفته نشده است."

اعضای ولسی جرگهء افغانستان نیز نظرات خود را در مورد طرح بودیجه ابراز کردند، بسیاری از آنان انتقاد می کردند که بودیجه با نیازمندی های ولایات و خواسته های مردم تطابق ندارد و باید از هر نگاه اصلاح شود و دوباره به شورا فرستاده شود.

هما سلطانی نماینده ولایت غزنی در ولسی جرگه گفت که بودیجه کافی برای برنامه های زنان نیز در نظر گرفته نشده و باید برای تقویت فعالیت های زنان در کشور بودیجهء زیاد در نظر گرفته شود.

وی در ادامه گفت:

"صحت، زراعت، وزارت شهدا در قسمت زنان بیوه برنامه های ناچیز دارند. در افغانستان بیشترین آسیب را زنان دیده اند و امروز بیشترین مشکل را زنان بیوه در افغانستان دارند که متاسفانه هیچ گونه بودیجهء در این زمینه مد نظر گرفته نشده است."

در پاسخ به رد بودیجه و انتقاد های که از سوی وکلای مردم صورت گرفته است، تا اکنون مسوولین وزارت مالیه پاسخ نداده اند.

بودیجهء ملی افغانستان که دارای دو بخش عادی و انکشافی است، همه ساله در ماه های زمستان به شورای ملی فرستاده می شود تا وکلا بالای آن بحث کرده و در صورت داشتن مشکلات در مشوره با مقامات وزارت مالیهء افغانستان حل گردد.

در بودیجهء سال ۱۳۹۰ شمسی، حدود ۲۱۵ ملیارد افغانی در نظر گرفته شده است که ۱۵۰ ملیارد آن به بودیجه عادی و بیشتر از ۶۵ ملیارد افغانی آن به بودیجه انکشافی اختصاص داده شده است.

تا اکنون روشن نیست که وزارت مالیهء افغانستان چی زمانی و با چی تغییرات و دلایلی طرح بودیجه امسال را که سال جدید آغاز گردیده به آن نیاز مبرم نیز احساس می گردد، دوباره به مجلس ارسال خواهد کرد.

افغان چارواکو د کابل بانک ...

نمونه او مثال ګڼل کېږي.

دغه بانک وروسته له دې له ستونزو سره مخامخ شو، چې تر منی د بانک د لویو چارواکو له خوا د لویو پورونو او سرمایو لګولو خبره رامیدان ته شوه.

دغه سرمایه په ځینو داسې پروژو لګول شوي دي، چې زیان او ګټه یې دومره نه وه څرګنده.

د دغو پروژو څخه یوه په دوبی کې د سمندر له غاړې ساختمانونه دي، چې یو یې په وړیا توګه د افغانستان د جمهور رییس ورور محمود کرزي ته وربښل شوی، چې دی هم په کابل بانک کې اسهام لري.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په خپل رپوټ کې زیاتوي:

د کابل بانک بحران د افغانستان د دولت لپاره یو امتحان دی، چې د اداري فساد په مقابل کې مبارزه څرنګه پرمخ بیایي.

د افغانستان د مالیې وزارت چارواکو وویل، د افغانستان بانک چارواکو چې د هیواد مالي سیستم سمبالوي روانه میاشت فیصله وکړه، چې د کابل بانک ټوله دارایي په امانت کې ږدي.

له دغې پروسې سره سم چې باید د یوې حکومتي کمیټې له خوا تصویب شي د کابل بانک ټولې مالي ذخیرې او فعال پورونه له سرمایه ګزارۍ او داسې پورونو چې اداکول یې ګران وي لیرې ساتل کېږي.

د افغانستان د مالیې وزارت مرستیال محمد مصطفی مستور د شنبې په ورځ له واشنګټن پوسټ ورځپاڼې سره د مرکې په ترڅ کې وویل، چې موږ کوښښ کوو، چې د تاوانونو اندازه معلومه کړو ترڅو یې په چاره لاس پورې کړو.

ده وویل، چې حکومت څکه د کابل بانک دارایي امانت کړه، چې دغه اقدام د هیواد مالي سیستم پیاوړی کوي.

د مالیې وزارت مرستیال زیاته کړه، چې حکومت به وروسته له دې د بانک لپاره یو خریدار پیدا کړي، ترڅو امانت شوې سرمایې خپلې کړي او نوی بانک پرې جوړ کړي.

امریکا او نړیوال وجهي صندوق د کابل بانک د دارایي د امانت کولو لپاره څکه فشار راوړی و، چې دغه کار د افغانستان کمزوری بانکي سیستم ته د بیا اعتبار او داړ ورکولو لپاره ډېر موثره او لنډه لاره ده.

کله چې په تیرې ډسمبر میاشتې کې د کابل بانک ستونزه څرګنده شوه، نو د افغانستان بانک ډېر ژر د دغه بانک چارې په خپل لاس کې واخیستې او سلګونه ملیونه ډالر یې بانک ته ورکړل، چې پرې وچلیږي او د کابل بانک مشترکینو د بانک د افلاس له ویرې خپلې سرمایې وویستې.

د افغانستان بانک چارواکو ټینګار کاوه، چې کابل بانک د څو کلونو لپاره د افغانستان بانک تر څارنې لاندې پاتې شي، ترڅو یې چارې سمبال او وپلورل شي.

دوی اندیښنه درلوده، چې که د بانک دارایي په امانت کېښودل شي نو مشترکین به د بانک د انحلال له ویرې یو ځلې بیا د بانک شعبو ته مخه کړي او خپلې پیسې به وباسي.

د افغانستان حکومت د کابل بانک مشترکینو ته ډاډ ورکړی دی، چې د دوی پیسې خوندي دي.

نړیوال فشارونه تیره میاشت زیات شول.

نړیوال وجهي صندوق د کابل بانک د لانجې له امله په تیر مني کې د افغانستان لپاره خپل پروګرام وځنډاوه.

د نړیوال وجهي صندوق چارواکو تېره میاشت د افغانستان له حکومته وغوښتل، چې د کابل بانک لانجه ژر حل کړي.

دغه راز د امریکا د خزانې د وزیر مرستیال نیل اس وولین تیره میاشت په کابل کې جمهور رییس حامد کرزي، د مالیې وزیر او د افغانستان بانک له رییس سره وکتل.

ده افغان مشران وهڅول چې د کابل بانک د لانجې د اعتبار وړ او موثر حل لپاره قاطعانه او ژر اقدامات وکړي.

اعتراف ناتو به کشتار غیر...

ایساف در ادامه افزود: "نیروهای ناتو در جریان حمله روز جمعه خود دو خودرو را که مظنون به حمل فرمانده طالبان و معاونانش بود، مورد هدف قرار دادند اما پس از حمله متوجه شدند که تشخیص آنها اشتباه بوده و خودروهای مورد نظر حامل عده‌ای غیرنظامی بوده است. البته هم‌اکنون تحقیق در این باره آغاز شده است."

بر اساس این گزارش، غیرنظامیان و مردم بی‌گناه نخستین قربانیان حملات و جنگ شش ساله افغانستان هستند و سال ۲۰۱۰ مرگبارترین سال برای غیرنظامیان افغان بوده است به گونه‌ای که طبق آمار در سال ۲۰۱۰ مجموعا دو هزار و ۷۷۷ غیرنظامی قربانی جنگ‌ها و درگیرهای مختلف در این کشور شده‌اند.

از آغاز سال ۲۰۱۱ میلادی، ناتو در بسیاري موارد بخاطر خطا در کشتار غیرنظامیان زیر سوال رفته و مقامات افغان آن را به کشتار ۷۰ غیرنظامی از جمله ۱۱ کودک در جریان بمباران‌هاي مختلف در ولایت‌هاي شرقی این کشور متهم کرده‌اند.

تلفات نظامیان خارجی در ...

با کشته شدن این نظامی خارجي شمار تلفات نظامیان خارجي به ۱۰۰ رسید که روزانه به طور میانگین بیش از یک نظامی خارجی در افغانستان کشته شده‌اند.

پیش بینی می‌شود که با گرم شدن هوا حملات طالبان و در نتیجه تلفات نظامیان خارجی افزایش یابد.

له طالبانو سره خبرو ...

ومني او خبرو ته حاضر شي.

د افغانستان لپاره د روسیې خاص استازي ضمیر کابلوف انترفکس خبري اژانس ته وویل: موږ له طالبانو سره مستقیم تماس نه لرو. خو روسیه په افغانستان کې د ملي پخلاینې ملاتړ کوي چې ډېر اهمیت لري.

ده همداراز وویل: "که د طالبانو په منځ کې داسې کسان وي چې دا ګام پورته کولی شي، چې البته موږ داړه یو چې شته، موږ به له دوی سره خبرو ته تیار یو."

ځینې سیاسي شنانډې وایي چې طالبان ممکن وغواړي چې له القاعده څانونه جلا کړي خو د دوی مشرانو ویلي تر څو چې بهرني پوځیان له افغانستانه وتلي نه وي خبرې نه کوي.

فرانس پریس خبري اژانس وایي تر څو چې د امریکا په دې غیرمحبوبې جګړې کې د پرمختګ په باب یقین نه وي حاصل شوی ګرانه ده چې د خبرو احتمال دې اټکل کړای شي.

کابلوف له طالبانو سره د روسیې د وارمخکې شرطونو یادونه وکړه چې د امریکا درو شرطونو ته ورته ول.

کابلوف د افغانستان امنیتي ځواکونه لا دا توان نه لري چې د خپل هیواد د ټولو امنیتي چارو مسوولیت په غاړه واخلي.

کابلوف انترفکس روسي خبري اژانس ته وویل: "دوی (افغان چارواکي) تراوسه لا تیار نه دي، او که د امنیتي چارو مسوولیت ورله غاړې شي، د افغانستان حالات به لا خراب شي."

ده د افغانستان ځواکونو د روزلو په برخه کې نړیوال ملامت کړل او ویې ویل: "د امریکا متحدو ایالتونو او ناتو په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې د یوې موثرې ملي اردو د جوړولو په برخه کې ډېره هڅه نه ده کړې."

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

امریکا له طالبانو سره خبرو ته حاضر ده خو د پنټاګون له موافقې وروسته

ګارډین:

بریتانوی چاپ ګارډین ورځپاڼې له طالبانو سره خبرې نژدې شوي، ترسرلیک لاندې یوه مقاله خپره کړې او د پیل په کرښو کې لیکي، د هیلري کلینتن په ګډون امریکایي مشرانو بالاخره په افغانستان کې له خپلو دښمنانو سره د خبرو اړتیا درک کړې خو په دې برخه کې باید د پنټاګون موافقه حاصله کړي.

ورځپاڼه لیکي، د اوباما اداره دغه باور ته چې له طالبانو سره خبرو ته اړتیاده، ډېر وروسته او زړه نازړه رسیدلې ده.

هیلري کلینتن لومړنی چارواکې وه، چې د مصر او لیبیا د بحرانونو تراغیز لاندې یې تیره میاشت نابېره په عام محضر کې په خپل دریځ کې د بدلون خبره وکړه او ویې ویل، دا په دې پوه ده، چې لکه د طالبانو په څیر له یوې بې رحمې ډلې سره روغه کول، ډېره بڼه او د منلو وړ خبره نه ده او زیاته یې کړه، ډیپلوماسي چې له خپلو دوستانو سره په خبرو څرخي، ډېره اسانه وي، خو څوک چې د سولې لپاره هڅه کوي هغه په دې ډول نه شي ترلاسه کیدای.

ګارډین وړاندې لیکي، له طالبانو سره د خبرو لپاره پنټاګون ته قناعت ورکول ساده کار نه دی. کلینټن د اسیا ټولنې ته په وینا کې په افغانستان کې هغه پرمختګونه وستایل، چې په دې هیواد کې د امریکایي جنرال ډېوېډ پیټرویس ترقوماندې لاندې د امریکایي سرتیرو د زیاتوالي له وجې ترلاسه شوي دي.

پیټرویس تیره اوونۍ په لندن کې د جګړې په ډګر کې ترلاسه شوي پرمختګونه ډېر مهم وبلل او ټینګار یې وکړ، چې دی د نورو پرمختګونو لار څاري.

هغه روغې جوړې ته په اشاره وویل، یو شمېر کسان چې له دولت سره یوځای شوي یا یې ببرته خپلو کورونو ته مخه کړې، دایې احساس کړې چې نړیوالو ځواکونو د طالبانو پرضد د جګړې انډول بدل کړی دی.

د ګارډین په وینا که څه هم د افغانستان د جګړې جوړښت د عراق له جګړې سره

کاملا په تضاد کې ده، خو پیټرویس د مخکینۍ هغې یادونه وکړه او ویې ویل چې په عراق کې یې له وسله والو سره روغه جوړه نه ده کړې.

د ورځپاڼې له دې لیکنې سره سم په داسې حال کې چې پیټرویس له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو له پیلیدو دمخه د وسله والو طالبانو پرضد د جګړې د تیزیدو غوښتونکی دی، دغه هیواد به خونړۍ میاشتې په مخکې ولري.

خو د ګارډین په وینا ښه خبر دا ده، چې په واشنګټن کې د هغو سیاست والو ترمنځ لفظي جګړه پیل شوې، چې د افغانستان په اړه د ناکامې ستراتیژۍ ملاتړي او دې هیواد ته د نورو ځواکونو د لیږلو پردوام یې ټینګار کړی و.

باستن ګلوب:

امریکایي باستن ګلوب ورځپاڼه د افغانستان په اړه په یوه مطلب کې لیکي، د امریکا پوځ د جرمني د یوې ورځپاڼې له خوا د خپروشویو تصویرونو په اړه چې هغه یې زړه بوګنونکې بللي، د بخښنې په غوښتلو سره یو مهم ګام اوچت کړ.

ورځپاڼه لیکي، ټولې جګړې په سرتیرو کې رواني فشارونه رامنځته کوي. خو د وسله وال بغاوت ضد ستراتیژي چې جنرال ډېوېډ پیټرویس یې په دې هیواد کې پرمخ وړي، دې ته اړتیا لري، چې د دې هیواد د خلکو زړونه او ذهنونه لاس ته راولي.

باستون ګلوب لیکي، ترهغو پورې چې امریکایي ځواکونه په افغانسان کې وي، دروند بار به یې د لوړپوړو قوماندانانو په اوږه وي.

دوی به نه یواځې داچې د ځواکونو عملیات له نژدې څاري، بلکې په پوځ کې د رسوایي د مخنیوي مسول هم بلل کیږي، څکه کله چې سرتیري لکه د کندهار د وژونکې ډلې په څیر یو افراطي عمل ترسره کوي، طالبان به ورڅخه د خپلو تبلیغاتو لپاره ډېره ګټه پورته کوي.